اوس مشرانو، ماشومانو او کوچنیانو لپاره موجود دی

# په حقایقو پوه شئ.

د خپلې ټولنې ساتنه وکړئ.  د خپل ماشوم ساتنه وکړئ.

## ماشومان او ځوانان به تر ټولو خوندي وي کله چې دوی د خپلو کوویډ-19 واکسینونو په اړه اپډیټ وي.

واکسین د ماشومانو او ځوانانو په ګډون هر څوک د کوویډ-19 له اخته کېدو څخه ساتي. واکسین د ماشومانو او ځوانانو له جدي ناروغۍ څخه هم مخنیوی کوي، که چیرې دوی ناروغه شي.

د کوویډ-19 ځینې نوي بڼې شته چې په اسانۍ نورو ته خورېږي او ښايي ګڼې نښې ولري. واکسینونه د مختلفو ډولونو په وړاندې ساتنه کوي.

## د ماشومانو او ځوانانو واکسین کول د ټولې ټولنې ساتنه کوي.

هغه خلک چې د خپلو کوویډ-19 واکسینو په برخه کې اپډیټ دي، کم احتمال لري چې دا وایروس نورو ته ولېږدوي. کله چې وړ ماشومان واکسین شي نو د لاندې خلکو ساتنه کوي:

- د دوی ملګري او کورنۍ چې لا تر اوسه واکسین شوي نه دي.
- زاړه او هغه خلک چې ځینې روغتیایي ستونزې لري چې له کوویډ-19 څخه د جدي ناروغېدو له لوړ خطر سره مخ دي.

چې ډېر ماشومان او لویان واکسین شي، دا به هم اسانه شي چې ښوونځي او سوداګرۍ پرانیستل شي.



## خوندي او اغېزناک

- د متحده ایالاتو په تاریخ کې بل هیڅ واکسین خپل خوندیتوب لپاره دومره نه دی ازمویل شوی.
- واکسین د مختلفو نژادونو، توکمونو او عمرونو لرونکو خلکو په ګډون د ماشومانو، ځوانانو او لویانو لپاره خوندي ثابت شوی دی.
- د کوویډ-19 واکسین پر بلوغت یا راتلونکي زیږون اغیزه نه کوي. واکسین د دې مانع کیږي نه چې ستاسو ماشوم به ونشي کړای چې یوه ورځ خپل ماشومان ولري.

## د هرچا لپاره وړیا

- تاسو او ستاسو ماشوم کولای شئ وړیا واکسین ترلاسه کړئ پرته له دې چې **د کډوالۍ وضعیت** ته مو پام وشي.
- نه تاسو او نه ستاسو ماشوم اړتیا لرئ چې د وړیا واکسین ترلاسه کولو لپاره **تذکره وښایئ** یا **طبي بیمه ولرئ.**

NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants

د لا زیاتو معلوماتو لپاره: cdc.gov/coronavirus

25 Oct 2022

# باید د څه ته ولرو



کله چې ستاسو ماشوم د کوویډ-19 واکسینونو په کولو کې اړېښت وي، نو کله چې
ښوونځي ته ځي، سپورټ کوي او له ملګرو او کورنۍ سره ګوري؛ خوندي به وي.
اړېښت اوسیدل په دې معنی دي چې د دوه ډوزه واکسین دواړه ډوزونه ترلاسه کول،
او بیا د بوسټر (پیاوړي کوونکي) ډوزونو ترلاسه کول چې دوی یې وړ دي.

**په لیدنه کې:**

- مخکې له دې چې نرس یا ډاکټر ستاسو ماشوم ته واکسین درکړي، دوی به تاسو ته د دې په اړه ووایي، ستاسو د ماشوم طبي مخینه به وګوري او تاسو ته به ووایي چې که کومه پوښتنه لرئ، نو کولای شئ ویې پوښتئ.
- ستاسو ماشوم باید د 30-15 دقیقو لپاره انتظار وکړي تر څو ډاډ ترلاسه کړي چې حساسیت نه شیي.

## لږ ضمني اغیزې عادي دي

ضمني اغیزې په دې معنی نه دي چې ستاسو ماشوم کوویډ-19 لري.

ضمني اغیزې په دې معنی دي چې واکسین ستاسو د ماشوم بدن ته ښوونه کوي چې څنګه له کوویډ-19 سره مبارزه وکړي.

په لږ ضمني اغیزو کې کېدای شي لاندې موارد شامل وي:

- ☐ درد یا پړسوب په هغه لاس کې چې واکسین تزریق کیږي
- ☐ ستړیا
- ☐ د سر درد
- ☐ د عضلاتو درد
- ☐ زوکام
- ☐ تبه
- ☐ زړه بدوالی

## جدي ضمني اغیزې خورا نادرې دي

**واکسینونه خوندي دي. ډېر احتمال لري چې ستاسو ماشوم به له کوویډ-19 څخه د واکسینو په پرتله ډېرې ستونزې ووینې.**

یو لږ شمیر ځوانانو ضمني اغیزې تجربه کړې دي لکه د زړه التهاب (د مایوکارډیټس یا پیریکارډیټس په نوم یادیږي) یا د وینې لخته کیدل.

- جدي ضمني اغیزې **خورا نادرې دي**
- جدي ضمني اغیزې د **درملنې وړ** دي او ډیری خلک چې دغه اغیزې لري ښه کیږي
- د واکسین ګټه د دوی له هر ډول خطر څخه ډیره ده

## د نورو معلوماتو لپاره له خپل ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ

د خپل ماشوم له ډاکټر یا نرس سره خبرې وکړئ تر څو د کوویډ-19 واکسینونو او نورو واکسینونو په اړه نور معلومات زده کړئ چې ستاسو ماشوم ورته اړتیا لري.

NRC-RIM
National Resource Center for Refugees, Immigrants, and Migrants

د لا زیاتو معلوماتو لپاره: cdc.gov/coronavirus